# اولسي ادب

فولکلور دانګليسي ژبي کلمه ده چي (فولک) دوګړي، خلګ،اولس او (لور) دپوهه، زده کړي معنا لري چي په دې صورت د (فولکلور) معنا اولسي پوهه ده داولسي پوهي لمن ببخي پراخه ده چي داولس دودونه،عادتونه،طب، دکورجوړولو،کرني، پوښاک خصوصېات ،کيسې ،سندري او نورو کې شامل دی.

کله کله داولسي ادب څخه مطلب يوازي د اولس ادب هم وي چي د خلکوادب، اولسي ادب ، شفاهي ادب ،اوفولکلوريک ادب او خپله د فولکلور په نامه هم يادېږي.

اولسي ادب د ټولني دادب هغه برخه ده چي دخلکو پر ژبه جاري ، له يوې خلې نه بلي ته انتقال شوې او لومړی جوړونکی يې معلوم نه وي او نه دهغه په باب څوک فکر کوي ، که موږ يوه لنډۍ يا متل واورو دهغه دلومړي جوړوونکي فکر له موږ سره نه پيدا کيږي خوکه يو چاربېته يا غزل واورو نوپه پای کې يې د جوړوونکي نوم نه وي پوښتنه راسره پيدا کيږي چي جوړوونکی به يې څوک وي؟ ځکه چي لومړی ديوې ټولني ګډ مال دی او دويم د يوه شاعر.

## د فولکلورلغوي او اصطلاحي معنا:

ترټولو لمخه به د فولکلور لغوي او اصطلاحي معنا باندي رڼا اچول چي دا توری څنګه جوړشو د او په لومړي ځل د کوم لیکوال لخوا وویل شو.

دفولکلور (folklore) اصطلاح په لومړي ځل دپاره انګلیسي پوهه تامس (W.J.Thoms) له خوا په کال (۱۸۴۶) عیسوي کښې استعمال شوه.ده په یوه لیک کښې چي د (Ambroise Merton )په مستعار نامه یې لیکلی ؤ، د لومړي ځل دپاره د فولکلور کلمه استعمال کړه.ده د فولکلور اصطلاح د هغو دودونو ، خرافاتو، متلونو، سندرو، کیسو او نورو عنعناتو دپاره استعمال کړه چي په انګلستان کښې له ځنډونو (پخوانو) وختونو څخه په میراث پاتې شوی وو.دفولکلور اصطلاح ډیر ژر نورو اروپایي ژبو ته لاره وموندله او دڅېړني ډګر یې نور هم پراخ شو.

دنولسمي پېړۍ له نیمایي نه وروسته لومړی په انګلستان او بیا د امریکې په متحدو اپالتونو ، جرمني ، فرانسي ، اسپانیا ، اسکنډنیاوي هیوادونو رومانې ، ترکیې او نورو هیوادو کښې یو په بل پسې د فولکلور د څېړني موسیسې جوړي شوې دغو موسیسو په اصولي او سیستماتیک ډول فولکوري موضوګاني څېړلې او یو زیات

شمېر آثار يې خپاره کړل .زموږ په ګران هیواد کښې (١٣٥٢) کال کښې د (فولکلور ټولنه) تاسیس شوه او دفولکلور د مجلې تر څنګ يې ځيني کتابونه هم چاپ کړل.